# ۶: ډیالوګ

لکچر: پوهنمل مصطفی صفا

# ډيالوګ څه شی دی؟



ډيالوګ د کرکټرونو تر منځ خبرو ته ويل کېږي. يا به له ځانه سره غږېږي او هم له نورو سره.

# د ډیالوګ یوه بېلګه:

زنګ مې ورووهه، غوږې يې پورته کړه، په خوښۍ يې ځواب راکړ.

- سلام، سلام دا چېرته يې؟

ما هم په خندا ځواب ورکړ.

- زه خو همدلته یم، ستا درکونه نشته، ته چېرې يې؟

لکه په ځواب چې شرمېږي یا وېرېږي.

- زه خو نو څه درته ووایم، سم دم بندي یم.

په ټوکه مې ورغبرګه کړه:

- بندي به نه يې ګوره، ځان به دې په زوره څېله کړې وي، ذکر به کوې!

په کټ کټ يې وخندل.

- اوس دې دا دې صوفي هم رانه جوړ کړ.

- ولې صوفيان ستا ایډیال شخصیتونه نه دي؟

خبره مې واړوله.

- ګوره موږ ټولو دا بند تېر کړ، څومره چې دا وبا بده ده، همدومره دا کورنی زندان. ناروغي به درشي او یا نه، خو دا بند به دې له سودا لېونی کړي...



# د عامو خبرو او ډيالوګ ترمنځ توپير

د داستاني آثارو کره کتونکي او ليکوالان په دې نظر دي چې کله د داستاني اثر خبرې اترې په هنري ډول وليکل شي، نو ډيالوګ «dialogue» دی او که په هنري ډول ونه ليکل شي، نو مکالمه «conversation» ده.

په پښتو ژبه کې د عامو خبرو اترو او ډيالوګ د اصطلاح ترمنځ توپير نه کول، ښايي د دې لامل هم شوي وي، چې زموږ ځوان داستان ليکونکي په خپلو آثارو کې د ډيالوګ په برخه کې ډېر برياليي نه ښکاري او ډېر وخت په خپلو ناولونو کې اضافي خبرو ته مخه کوي.

# د مکالمې او ډيالوګ بېلګه

## ۱

- سلام
- وعليکم
- څه حال دی؟
- خيرت دی، ستاسو خوا ته څه حال دی؟
- مننه، زموږ خوا ته هم خير خيرت دی.

## ۲

- سلام
- ښه وايه!
- په دې شنه سهار دې بيا توره له تېکي را ايستلې ده؟
- له بې مخه خلکو سره بايد همداسې وشي.

دلته لومړنۍ بېلګه د ورځني ژوند د سلګونو خلکو د عادي خبرو ده. دا خبرې اترې نه کرکټر راپېژني، نه نوې خبره کوي او نه هم کيسې ته پرمختګ ورکوي. دوهمه بېلګه د ډيالوګ ده. ځکه زمان «شين سهار» پکې معرفي کېږي او د يوې لانجې يادونه پکې کېږي چې د کيسې پرمختګ ته پکې لار هوارېږي.

# په ناول کې د ډیالوګ ارزښت

ډیالوګ د ناول له مهمو عناصرو څخه دی. ځینې لیکوال له پلاټ او کرکټر وروسته ډیالوګ په ناول کې مهم توکی ګڼي.

په ناول کې د ډیالوګ د دغه مهموالي لومړی لامل دا دی چې د ناول کیسه ژوندۍ ساتي، په حرکت یې راولي او له یو رنګ والي څخه یې ساتي.

دویم لامل یې دا دی چې ډیالوګ د کرکټرونو په انځورولو کې مرسته کوي، څکه چې لوستونکو ته کرکټر تر هغو ژوندی او روښان نه شي ښکاره کېدای، څو د هغه خبرې وانه وري.

دریم لامل یې دا دی چې په دې عنصر کې لیکوال ډېرکله خپل اصلي مقصد یا د ژوند فلسفه بیانوي. دا هغه ټکی دی چې ټول ناول ورته وقف شوی وي. د دې موخې د ترلاسه کولو لپاره لیکوال اړ وي چې د ناول له نورو عناصرو لکه پلاټ، کرکټرونه، منظرکشۍ او نورو څخه ګټه پورته کړي او هغه د وسیلې په توګه وکاوري.

# د ډیالوګ لیکنې په برخه کې اړین ټکي

۱- په ډیالوګونو کې باید د تکراري خبرو مخه ونیسو. مثلاً:

احمد: په کور کې څه خبرې وې؟

محمود: په کور کې کراره کراري وه.

دلته د دوهم ډیالوګ دا برخه «په کور کې» د لومړي ډیالوګ تکرار دی.

دوهم ډیالوګ که داسې راشي غوره به وي: «کراره کراري وه.»

لوستونکی پوهېږي چې هدف «کور» دی، ځکه په لومړي ډیالوګ کې یاد شوی دی، نو له تکراره یې باید ډډه وشي.

۲- په ډیالوګ لیکنه کې له بیانیې ډډه کول ضروري دي. لیکوال باید کرکټر داسې انځور نه کړي، چې له هغه ویاند جوړ کړي او په اخباري جملو داستان وپړسوي.

۳- په ډیالوګ کې دې له متلونو او اصطلاحاتو ډېره استفاده نه کیږي، داسې چې لوستونکی احساس کړي چې کرکټرونه خپل بلاغت او فصاحت راښیي.

۴- نوی داستان لیکوال دې په ډیالوګ کې عامیانه «لهجوي» ژبه نه کاروي. د عوامو د ژبې کارول تر معیاري ژبې ډېر ګران دي او خورا مهمه دا چې مختلفې لهجې ونه کاروي، ځکه چې بیا هرې لهجې ته پام کول به له لیکواله داستان ګډوډ کړي.

۵- په ډیالوګ لیکنه کې دې لیکوال هڅه وکړي چې د یوه کرکټر د خبرو یو وار تر دریېیو څلورو جملو وانه وړي، څو په دې ډول لوستونکی د ډیالوګ هغه بل بل لوری هېر نه کړي.

# نبي چاري!

